مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۵/۲۹

# د ویر تیکه یوازې موږ وهلې

**خېته د ویر لمده ده، نه وچیږي**

**نور پرې د پاسه ګرزي،**

**موږ ورته ناست یو قالبونه لاس کې**

**د غم له خښتو نه دیوال جوړوو**

**کلي نه ګردچاپیره**

**دغه دیوال تاوو**

**داسي ښکارېږي چې پر ویر باندې مین یو موږه**

**په دې نړۍ کې بل څوک نه شته**

**او د غم تیکه راپاتې موږ ته**

**که څوک د مرستې لاس نږدې کړي، ورته وایو:**

**اندېواله خپله مخه کوه**

**د ویر تیکه یوازې موږ وهلې**

۲۰۱۸/۰۵/۲۱
هیدر سلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ